**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوښتنې ځواب**

# د نایجریا سیاسي وضعیت

(ژباړه)

**پوښتنه:**

تر ولسمشریزو ټاکنو وروسته، په نایجریا کې د ۲۰۲۳م کال د مارچ پر ۱۱ مه، ولایتي او ایالتي ټاکنې ترسره شوې. ولسمشریزې ټاکنې د ۲۰۲۳م کال د فبروري پر ۲۵مه ترسره شوې او پایلې یې د ۲۰۲۳م کال د مارچ پر ۱ نېټه اعلان شوې چې د حاکم ګوند، د کانګرس ترقي غوښتونکي ګوند، نوماند بولا احمد تینوبو پکې بریا خپله کړې وه. د خلکو ډیموکراټیک ګوند څخه د نوموړي سیال، عتیقو ابوبکر دویم شو او بل سیال یې، پیټر اوبي چې له کارګر ګوند څخه و، دریم ځای خپل کړ؛ دوی دواړو د ټاکنو پر پایلو اعتراض وکړ. امریکا په دې اړه خپله اندېښنه څرګنده کړه؛ له معترضو نوماندانو یې خپل ملاتړ وښود او ګټونکي لوري ته یې مبارکي ونه ویله؛ په داسې حال کې چې بریتانیې د ټاکنو له پایلو خوښي څرګنده کړه او ټاکل شوي ولسمشر ته یې مبارکي ورکړه. د نایجریا سیاسي صحنه د کومو بدلونونه شاهده ده؟ ټاکنې په امریکا او بریتانیه پورې څه تړاو لري؟ د ټاکنو په تړاو د دوی دریځونه څه معنی لري؟

**ځواب:**

دغو پوښتنو ته د ځوابونو روښانه کولو لپاره؛ دغه موارد ارزوو:

۱- نایجریا یو اسلامي هیواد دی. د نایجریا شمال کانو سیمې ته اسلام د ۷مې میلادي پېړۍ په منځنیو کلونو کې لاړ او د سوداګرۍ له لارې د دغه هېواد په شمالي او مرکزي (هاوسا او فولاني) سیمو کې خپور شو. اسلام دلته په حقیقت کې د لسمې میلادي پېړۍ په منځنیو کلونو کې د اندلوسي فقهاوو په لاس په اوسنۍ بڼه خپور شو؛ وروسته په دغو سیمو کې یو اسلامي امارت جوړ شو، چې عثماني خلافت یا سوکوتو خلافت بلل کېده او له کابو سل کاله دوام وروسته په ۱۹۰۴م کال کې بریتانیې له منځه یووړ. د دغه امارت امیر، عثمان دن فودو و. د نایجریا په محاکمو کې مالکي مذهب مشهور دی او ډېری مسلمانان یې سنیان دي. د نایجریا په ۱۲ ایالاتونو کې د اسلامي شریعت ځینې احکام پلي کېږي.

۲- د نایجریا نفوس اوس ۲۲۰ میلیونه دی. د ملګرو ملتونو د ۲۰۲۱ کال اټکل له مخې، د دغه هېواد نفوس ۲۱۹ میلیونه دی او د بېلابېلو احصایو له مخې د نایجریا ډېری وګړي مسلمانان دي چې د ٪٦٥ او ٪۷۵ ترمنځ نفوس تشکیلوي. د نایجریا مساحت یو میلیون کیلومتر مربع ده. د ۱۹۰۰ او ۱۹۰۴ ترمنځ، بریتانیا وتوانېدله چې د اسلامي حاکمیت تر ړنګولو وروسته، ډېرې هغه سیمې تر خپل کنټرول لاندې راولي چې په نایجریا مشهورې وې. بریتانیې د ۱۹٦۰م کال د اکتوبر په ۱ نېټه نایجریا ته رسمي خپلواکي ورکړه؛ واک یې عیسوي لږکیو، ایګبو ته وسپاره او په ۱۹٦۳ کې یې دغه هېواد ته د مشترک المنافع هیوادونو غړیتوب ورکړ. په نایجریا کې ګڼ شمېر نژادونه شته چې تر ټولو لوی یې دا درې قومي ډلې دي: هاوسا او فولاني په شمالي او مرکزي سیمو کې چې ډېری یې مسلمانان دي او یوروبا په مرکزي او سویل لوېدیځو برخو کې چې ډېری یې عیسویان دي او د مسلمانانو لږکي هم لري. له بل پلوه، د ایګبو لږکي چې کاتولیک عیسویان دي، په سویل ختیځ کې ژوند کوي.

۳- د ۱۹۹۹ ټاکنې اوباسنجو وګټلې او د دوو ټاکنیزو دورو د ۱۹۹۹/۵/۲۹ څخه تر ۲۰۰۷/۵/۲۹ پورې په نایجریا کې واکمن و. اوباسنجو د امریکا ملاتړی و او د مسلمانانو پر وړاندې یې ښکاره دښمني کوله. د ۲۰۱۵ کال ټاکنې محمد بخاري چې د بریتانیې لاسپوڅی و، وګټلې؛ بولا احمد تینوبو د نوموړي له لویو ملاتړو و او هغوی وتوانېدل چې په سیاسي حلقو کې د بریتانیې نفوذ ټینګ کړي. احمد تینوبو په نایجریا کې د سیاسي ملاتړي او پاچا جوړوونکی په توګه مشهور شو. نوموړی د ۲۰۲۳ ټاکنو کې ودرېد؛ شعار یې «اوس زما وار دی!» و او ټاکنې یې وګټلې.

د ۲۰۲۳م کال د مارچ پر لومړۍ، د نایجریا د ټاکنو خپلواک کمیسیون د حاکم ګوند (د کانګرس ترقي غوښتونکی ګوند) د استازي، بولا احمد تینوبو بری اعلان کړ. یادې ولسمشریزې ټاکنې د ۲۰۲۳م کال د فبروري پر ۲۵ مه ترسره شوې او ۱۸ نوماندانو برخه پکې اخیستې وه. په دغو ټاکنو کې ۸۷ میلیونه خلکو رایه ورکړه او بولا احمد تینوبو ۸،۸ میلیونه رایې خپلې کړې چې ٪۳۷ کېږي. د نوموړي دوو سیالانو، د خلکو له ډیموکراټ ګوند څخه عتیقو ابوبکر ٦،۹ میلیونه (٪۲۹) او له کارګر ګوند څخه پیټر اوبي ٦،۱ میلیونه (٪۲۵) رایې ترلاسه کړې. دواړو ناکامو نوماندانو پایلې رد کړې او غوښتل یې ویې ننګوي او تقلبي یې وګڼي؛ دوی ویل چې «دا ټاکنې نه ازادې، نه عادلانه او نه هم شفافې وې». عتیقو ابوبکر په ۲۰۲۳/۳/٦ نېټه د خپلو پلویانو د لاریون مشري وکړه او د ټاکنو خپلواک کمیسیون له دفترنو بهر راغونډ شول. د خلکو ډیموکراټ ګوند یوه غړي د موضوع په تړاو د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته عریضه وسپارله؛ خو د ټاکنو پایلو کې بدلون رانغی.

۴- له همدې امله، بریتانیې په نایجریا کې ټاکنیزه پروسه وستایله. د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر جیمز کلورلي د ۲۰۲۳م کال د مارچ پر لومړۍ، منتخب ولسمشر بولا احمد تینوبو ته مبارکي ورکړه او د نوموړي له قوله په یو بیان کې چې د بریتانوي حکومت په رسمي ویبپاڼه خپور شو، راغلي: «بریتانیه په ولسمشریزو او د ملي شورا ټاکنو کې

د نایجریا د خلکو ګډون او د خپلو ډیموکراتیکو حقونو په کارولو کې د دوی زغم او نرمښت ستایي. موږ منتخب ولسمشر، سناتور بولا احمد تینوبو ته مبارکي وایو او د ټاکنو د پایلو په تړاو د اپوزیسیون ګوندونو دریځ او د ټاکنو د پروسې مدیریت، لکه ځنډ او تخنیکي ستونزو، په اړه د ټاکنیزو څارونکو او مدني ټولنې اندېښنې څېړو. موږ چارواکي هڅوو چې ټولې اندېښنې په دقیق ډول وارزوي، د پاتې موضوعاتو د حل په تړاو اقدام وکړي او د نایجریا د خلکو غوښتنو ته درناوی وکړي».

دا له منتخب ولسمشر څخه د بریتانیې د ملاتړ دریځ دی. بریتانیې په ټاکنو کې د درغلیو یادونه ونه کړه، بلکې له چارواکو یې وغوښتل چې ټولې اندېښنې وڅېړي او په څېړونو کې بې طرفي په پام کې ونیسي. سربېره پردې، اروپايي اتحادیې هم د ټاکنو ملاتړ وکړ. د اروپایي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشر جوزف بورل وویل، «نایجریا څو ورځې مخکې د ولسمشریزو او پارلماني ټاکنو شاهده وه او دا په لوېدیځه افریقا کې د ډیموکراسۍ غښتلي کولو یو ستر فرصت دی. که څه هم وضعیت سخت او په عملیاتي برخه کې نیمګړتیاوي وې، خو نایجریایانو د ډیموکراسي لپاره خپله ژمنتیا وښودله» (کونا، ۲۰۲۳/۲/۲۸). په نایجریا کې له منتخب ولسمشر څخه د برېتانیې ملاتړ او دغه راز په افریقا کې د امریکا د نفوذ پر وړاندې له ده څخه د اروپایي ټولنې ملاتړ لیدلی شو.

۵- د بولا احمد تینوبو پر وړاندې د امریکا دریځ منفي و. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند نیډ پرایس په یوه اعلامیه کې وویل: «د نایجریا خلک د داسې اندېښنو حق لري او باید له وروستیو ټاکنو ډېرې تمې ولري. د ټاکنیزو شخړو د حل لپاره منظمې کړنلارې شته او موږ هر هغه نوماند یا ګوند چې د پایلو ننګولو غوښتنه کوي، هڅوو چې د یادو کړنلارو له لارې اصلاحات راولي. موږ له نورو نړیوالو څارونکو سره یوځای د نایجریا له ټاکنیز کمیسیون څخه غوښتنه کوو چې په مهمو برخو کې اصلاحات راولي... موږ پوهېږو چې ګڼ نایجریایان او ځینې ګوندونه په لومړي ځل په ولسمشریزو ټاکنو کې د ټاکنو پروسې مدیریت او تخنیکي نیمګړتیاوو په تړاو نهیلي دي. موږ د هغو اندېښنو راپورونو ته اندېښمن یو چې د ټاکنو پر مهال د رسنیو پر ګڼ شمېر غړو بریدونه شوي» (نایجریه لیډرشیپ ویبپاڼه، ۲۰۲۳/۳/۲). امریکا د ټاکنیزې پروسې په تړاو د اپوزیسیون ګوندونو د اعتراضونو ملاتړ وکړ او هغوی یې اعتراض ته وهڅول. امریکا ګټونکي نوماند ته مبارکي ور نه کړه او د ټاکنو پروسې په ترڅ کې یې پر رسنیو برید اندېښمنوونکی وباله. له دې څخه ښکاري چې نوی ولسمشر د امریکا د خوښې وړ کس نه دی او نه دی ورپورې تړلی.

۶- د ولسمشریزو ټاکنو بل نوماند عتیقو ابوبکر چې د ۱۹۹۹-۲۰۰۷ پورې د پخواني ولسمشر اولیسګن اوبسانجو مرستیال و اوس د اپوزیسیون استازیتوب کوي. اوبسانجو د امریکا لاسپوڅی و. داسې ښکاري چې امریکا د عتیقو ابوبکر واک ته رسېدل غوښتل؛ ځکه هغه مسلمان دی او د بل مسلمان، بولا احمد تینوبو چې درناوی، ملاتړ او مالي وړتیا هم لري، سیالي کولی شي. بل لور ته د انګلیس مزدور، محمد بخاري ورسره دی. د خلکو ډیموکراټ

ګوند چې د ۱۹۹۹ او ۲۰۱۵ ترمنځ یې هیواد اداره کاوه، په پراخ فساد لړلی و؛ په ځانګړي ډول ګوډلک جاناتان چې په خپل وخت کې یې یو شمېر ځپونکي اقدامات لکه؛ د مسلمانانو پر وړاندې تبعیض او د ترهګرۍ په پلمه د مسلمانانو ځورونه، وکړل. امریکا که څه هم پر خپل لاسپوڅي جاناتان باندې د پراخ فساد په سبب نیوکه وکړه، خو د هغه واک یې نور هم ټینګ کړ. له همدې امله، امریکا خپل لاسپوڅي ښارل، که هغوی سرغړونه کوله، افشا کول یې. امریکا عامو خلکو ته داسې ښودله چې ګواکې د فساد ضد ده. په داسې حال کې چې امریکا د خپلو لاسپوڅو د کړنو پر وړاندې غلې ده، د هغوی د اصلاح لپاره څه نه کوي او د مفسدینو ملاتړې ده.

۷- امریکا یو شمېر سناریوګانې په پام کې نیولې وې: که د خلکو ډیموکراټ ګوند نوماند عتیقو ابوبکر ناکامېږي، امریکا یو بل کس په پام کې درلود. امریکا پیټر اوبي ته فضا جوړه کړه او داسې یې وښووده چې ګواکې هغه بیخي پاک دی! پیټر اوبي تېر کال د ۲۰۲۲ کال په مې کې د خلکو له ډیموکراټ ګوند څخه استعفا وکړه او له کارګر ګوند سره یوځای شو. پلان داسې و چې د مسلمانانو رایې چې په نایجریا کې اکثریت تشکیلوي، د خلکو ډیموکراټ ګوند د نوماند عتیقو ابوبکر او د کانګرېس ترقي غوښتونکي ګوند د نوماند بولا احمد تینوبو چې د بریتانیې لاسپوڅی دی، ترمنځ ووېشل شي. همدا رنګه ربو موسی کوانکواسو چې مسلمان او د نوي نایجریا خلکو د ګوند نوماند دی، په دې ورستیو کې یې شهرت ترلاسه کړی او په تېرو ټاکنو کې د ٦٪ رایو په ګټلو سره ځلورم ځای خپل کړی و، هم د مسلمانانو رایو وېشلو کې رول لوبولی شي. امریکا د عیسوي پیټر اوبي ملاتړ کاوه او امریکایي رسنیو فضا ورته برابروله. داسې اوازې یې خپرې کړې چې نوموړي د نایجریایي ځوانانو، چې د هیواد ٦۰٪ تشکیلوي، د خوښې وړ نوماند دی؛ بدلون غواړي او ځوانان واک ته راولي.

د امریکایي رسنیو یوه شرکت، بولمبرګ راپور ورکړ چې په نایجریا کې یې یوه ټولپوښتنه کړې. دغه ټولپوښتنه د مبایل د یوه اپلیکېشن له لارې له ۲۳۸۴ ناجریایانو شوې وه او ښودل یې چې ډېری نایجریایان پیټر اوبي د ولسمشریزو ټاکنو ګټوونکی ګڼي. دغه راز امریکایي ANAP بنسټ هم د پیټر اوبي د بریا وړاندوینه وکړه. ملي ډیموکراټیک بنسټ او نړیوال جمهوري بنسټ هم ورته ورته تمه لرله. د یادونې وړ ده، چې د خلکو ډیموکراټ ګوند تر ۲۰۱۵ کال پورې د نایجریا په سیاسي صحنه کې له اغېزناکو ګوندونو څخه و چې د ولسمشریزو ټاکنو د ګټلو توان یې درلود. د بریتانیې د مزدور، محمد بخاري په راتګ سره که څه هم امریکا د هغه د مخې نیولو هڅه وکړه، سیاسي صحنه بدله شوه.

۸- بریتانیا او امریکا په نایجریا کې د نفتو پر سر یو له بل سره ښکر په ښکر دي. د نفتو تولیدوونکو هیوادونو په کچه نایجریا دولسمه درجه، د نفتو صادرونکو هیوادونو په کچه اتمه درجه او د نفتو زیرمه لرونکو هیوادونو په کچه لسمه درجه هیواد دی. د امریکا د انرژۍ معلوماتي ادارې د نایجریا د نفتو زیرمې له ۱٦ تر ۲۲ میلیارده بېرلو ترمنځ اټکل کړې؛ خو نور اټکلونه وایي چې دا ۳۵,۳ میلیارده بېرله دي. د نایجریا نفتو سیالان پر ځان رامات

کړي؛ ځکه ډېر سلفر نه لري او د تصفیې پروسه یې ارزانه تمامېږي. د نایجریا د نفتو وزارت په وینا، نایجریا ۱۵۰ د نفتو ساحې او ۱۴۸۱ څاګانې لري. د نایجریا د نفتو کنټرول د بریتانوي شرکتونو په ولکه کې و، خو له ۱۹۹۹ وروسته، د اوباسنجو د واکمنۍ پر مهال د امریکا په ورتګ سره د بریتانوي شرکتونو انحصار محدود شو.

۹- نایجریا له سختو ستونزو لکه؛ ناامنۍ، خراب اقتصاد، لویو پورونو ، سختې بېوزلۍ او د سیاسیونو له پراخ فساد سره مخ ده. اقتصادي حالت یې خراب دی، د ۲۰۲۲م کال په پای کې تورم ٪۲۱٫۵ ته ورسېد، د خلکو د بېکارۍ کچه ٪۳۳ او د ځوانانو لپاره دا کچه ٪۴۲٫۵ ده. د ۲۰۲۲ په مارچ کې د نړیوال بانک د اټکل له مخې، د دغه هیواد د ۲۲۰ میلیونه نفوس ٪۴۰ یې د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. د نایجریا د پولي واحد ارزښت لوېدلی دی. د تېرې میاشتې په پیل، د ۲۰۲۳م کال په فبرورۍ کې، پراخ فساد دولت اړ کړ چې د پولي واحد درې نوټونه بدل کړي. د یادونې وړ ده چې نایجریا د افریقا له لویو اقتصادونو څخه ده. د دغه هیواد په سویل کې د نفتو غلا په زیاتېدو ده او دا په یو لاعلاجه ستونزه بدله شوې، چې په پایله کې یې د تېلو په صادراتو کې کموالی راغلی او ان په نایجریا کې خلک د خپلو وسایطو د سونګ توکو له کمښت سره مخ دي. د ۲۰۲۲م کال د جون احصایې ښیي چې د نایجریا د پورونو کچه ۱۰۳ میلیارده ډالرو ته رسېږي؛ که سود او بېمه ورسره یوځای کړو نو دا هیواد باید په کال کې ۱۲ میلیارده ډالر پور پرې کړي. که څه هم نایجریا د نفتو د سترو صادرووونکو هیوادونو له ډلې ده، خو دا خبره د شته ستونزو په سبب مرسته نه شي ورسره کولی. د دغه کړکېچ سبب په حکومت کې فساد او له پخوانیو او نویو استعماري هیوادونو څخه د چارواکو پیروي ده. بریتانیې نایجریا ته تش په نامه رسمي خپلواکي ورکړه، خو استعمار په بله بڼه په ځانګړي ډول په اقتصاد او حکومتولۍ کې دوام پیدا کړ. حللاره دا ده چې د استعماري بریتانیې په لاس جوړ شوی نظام بدل شي. بریتانیې له غرب څخه کاپي شوی اساسي قانون نایجریا ته راوړ او داسې حاکمان یې وګومارل چې یا اساسي قانون اسلام او عیسویت ته له پام پرته پلی کړي. کله چې امریکا په اوبایمو کلونو کې نایجریا ته راغله، په پوځ کې یې نفوذ وکړ او له بریتانیې سره یې د دغه هیواد پر سر سیالي او شخړه پیل کړه.

۱۰- له دې هر څه سره سره، استعماري هیوادونه، په ځانګړي ډول امریکا او بریتانیا مستقیماً د دغه هیواد په چارو کې لاسوهنه کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند، د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر او اروپایي ټولنې د بهرني سیاست مسول بیانونه د دغه هیواد په چارو کې مستقیمې لاسوهنې ګڼل کېږي. اصلاً خو باید د نایجریا چارواکي او سیاسیون د دغو هیوادونو لاسوهنې وغندي او رد یې کړي؛ له هغوی غوښتنه وکړي چې لاسوهنې بندې کړئ، اخطار ورکړي او اړیکې ورسره پرې کړي. وروسته باید د هیواد ژغورنې په تړاو جدي او له اخلاصه ډک فکر وشي او بنسټیزه حللاره پیدا شي. که دا کار وکړي، ژر پوهېږي چې له شک پرته اسلام یوازنۍ حللاره ده چې نایجریا او نایجریایان ژغوري. د نبوت پر منهج راشده خلافت د دوی ترمنځ برابري راولي، ګټې تضمینوي او د هغوی معیشیت، هستوګنځی او سفر خوندي کوي. که دوی مسلمانان وي او که عیسویان؛ خلافت دغه هیواد ته

پرمختګ ورکوي، له استعمار څخه يې ازادوي او صنعتي انقلاب راولي؛ چې له دې سره دغه هیواد په ابرځواک بدلېږي. هغه وخت خپل صنعت جوړوي، خپل نفت استخراجوي، ټول عاید يې ځان ته پاتې کېږي او له تبعیض پرته پکې وېشل کېږي. هغه وخت به پر ځان بسیا وي؛ ژوند، عزت او شتمني به يې ساتل شوې وي. په دې ډول به بېکاري، بېوزلي، وېره او لوږه له منځه لاړ شي.

**[إِنَّ فِي ذَلِكَ لَذِكْرَى لِأُولِي الْأَلْبَابِ]** (الزمر: ۲۱)

ژباړه: بېشکه په دې کې د عقل د خاوندانو لپاره پند او عبرت دی.

۱۴۴۴ هـ.ق، د شعبان ۲۱مه

۲۰۲۳م کال، د مارچ ۱۳مه